## پارلمان
هغه لوړه تقنیني مرجع ده چې له انتخابي او انتصابي غړو جوړه شوي وي. دری: [پارلمان]

## پارلماني مصؤنیت
د ملت د وکیلانو د حقوقو او آزادئ له ساتنی څخه عبارت دی چې د وکالت په دوره کې د قانون له خوا تصریح شوی وي. دری: [مصؤنیت پارلمانی]

## پاسپورت
هغه مطبوع او رسمي سند دی چې د قانون له حکم سره سم د واکمنو مقاماتو له خوا د یو مملکت د اتباعو لپاره بهرته د مسافرت یا هېواد ته د راستنیدو په منظور ویشل کیږي. دری:[پاسپورت]

## پاکټ
هغه پوښ دی چې په هغه کې پاڼې او لیکنې ساتل کیږي، او وروسته له ټولو اړوندې مرجع ته استول کیږي.
دری: [پاکت (لفافه)]

## پخش
عامه وګړو او یا د دوی څانګړې ډلی ته د هر ډول پاڼو، کتابونو او نورو مطبوع نشراتو صوتي، تصویري او یا دیجیتلي خپرونې په حقیقي بڼې او یا هم د امواجو له لارې رسول دي. دری:[پخش]

## پخواني اصرار
عبارت دی د قاطع تصمیم نیونې څخه پخوا له دې چې د نظر لاندې جرم تر سره شي، خو پدی شرط چې د فوری غضب او نفسی هیجانونو څخه نه وي پیدا شوی.
دری: [اصرار قبلی]

## پخوانی ید
هغه تصرف ته ویل کیږي چې د یوه مال یا ملك تصرف تر ټولو د مخه د هغه وي. دری:[ید سابق]

## پر اخلاقو او عمومي عفت باندې جرمونه
پر هغو جرمونو باندې اطلاق کیږي چې د هغو موضوع اخلاق او عمومي عفت وي چې په یو ډول نه یو ډول د تعرض لاندې راځي.
دری:[ جرایم علیه اخلاق و عفت عمومی]

## پر اشخاصو باندې جرمونه
په هغو جرمونو اطلاق کیږي چې د اشخاصو په جسماني او رواني تمامیت باندې صورت مومي.
دری:[جرایم علیه اشخاص]

## پر أعیانو باندې وصیت
هغه وصیت دی چې د هغه موضوع د عین ملکیت وي.
دری: [وصیت بر أعیان]

## پر حریت باندې اعتداء
هغه تیری دی چې د یوه شخص آزادي تهدید وي.
دری: [اعتداء بر حریت]

## پر حکم باندې لاسلیك
د حکم لاسلیك دی چې د صادروونکې محکمې له خوا صورت مومي چې ددې لاسلیك پرته حکم باطل دی.
دری: [ امضاء بر حکم]

## پر حیازت باندې تعرض
د یو شي د حیازت پر حق باندې تېری دی.
دری: [تعرض بر حیازت]

## پر ژوندانه باندې اعتداء
هغه تیری دی چې د یوه شخص وجود تهدیدوي.
دری: [اعتداء بر حیات]

## پر عایداتو باندې د مالیاتو تابع ګټه

د ثابتو شتمنیو د پلورلو یا تبادلې له درکه ګټه چې په کسبونو او سوداګرۍ کې لاس ته راځي او د مالیاتو تابع وي. دری:[ مفاد تابع مالیات برعایدات]

## پر عایداتو مالیات

هغه مالیات دي چې د قانوني ټاکلیو پیسو تر وضع کولو وروسته د مؤسساتو او اشخاصو له عوایدو څخه اخیستل کیږي. دری: [مالیات بر عایدات]

## پر عمل اجاره

هغه عقد دی چې موضوع ئې د یوه مجاز عمل ترسره کول وي. دری:[ اجاره بر عمل]

## پر غایب دعوی

هغه دعوی ده چې پر غایب یا ورک شوی شخص باندې وي. دری: [دعوی بر غایب]

## پر غیابي حکم اعتراض

د اعتراض یو ډول دی چې د غایب محکوم علیه له خوا د محکمې د حکم پر وړاندې د قانون له حکمونو سره سم کیږي. دری: [اعتراض بر حکم غیابی]

## پر مال ولایت

د هغو قاصرینو له سر پرستي، مالي چارو له اداري او شتمني له کارولو او پکښې له مطلوب دخل، تصرف او ساتنه چې خپله یې د اداره کولو فکري او ځاني لازم توان نلري. (ولایت ته دې مراجعه وشي).
دری: [ولایت بر مال]

## پر متهم احتیاطي اجراآت

هغه اجراآت دي چې د هغو پرمبنا د تحقیق کوونکی د تحقیق د سالم والي په موخه د متهم د نیولو، احضارولو، احتیاطي جس او د هغه په مال کې نه تصرف صادروي.
دری: [اجراآت احتیاطی علیه متهم]

## پر مزد مالیه

هغه مالیه ده چې له مزد څخه اخیستل کیږي.
دری: [مالیه بر مزد]

## پر منافعو باندې وصیت

هغه وصیت دی چې د هغه موضوع د انتفاع پر حقونو پورې اړوند وي. دری: [وصیت بر منافع]

## پر میراث مالیه

هغې مالیې ته ویل کیږي چې د یوه متوفی له موروثه املاکو نه له وارثینو څخه په یوازې توګه اخیستل کیږي.
دری: [مالیه بر میراث]

## پر نفس باندې ولایت

د هغو قاصرینو د شخصي چارو سر پرستي او اداره چې پخپله د اړوندو چارو له اداري او تصمیم نیونې څخه عاجز وي. (ولایت ته دې مخه شي).
دری: [ولایت بر نفس]

## پرله پسې عقدونه

په پرله پسې توګه د یو عقد د عین موضوع د مخکنې عقد د مودې له پایلې څخه مخکې د یوه بل عقد انعقاد ته ویل کیږي. دری: [عقد پیهم]

## پروتوکول

پروتوکول ته ډول ډول معناګانې شته چې هغه د غونډې صورتحال، د مذاکراتو لنډیز، معاهده، موافقتنامه، اصلي او اولي نسخه، مقدماتي مقاوله، توافق لیک، مقدماتي موافقه او د سند پیش نویس دي.

خو، په عامه توګه پروتوکول د هغو مقرراتو مجموعې ته ویل کیږي چې د اشخاصو ترمنځ اړیکې ټینګوي او هغوی یې باید رعایت کړي. دری: [پروتوکول]

## پریکړه

د قضایي هیأت د مستدل او قانوني حکم له اصدار څخه عبارت ده چې له محاکمې د بهیر نه وروسته صورت مومي او په اړونده محکمه کې دعوې ته پای ورکوي.
دری:[فیصله]

## پلارنۍ ورور

هغه ورور چې له میت سره شریك پلار ولري.
دری: [برادر پدری]

## پلوان شریك (د شریکو پولو خاوندان)

هغو کسانو ته ویل کیږي چې ځمکه یې د بل چا یا بل شخص په مجاورت (څنګ) کې واقع شوي وي.
دری:[پلوان شریک]

## پلوتونیوم

هغه یورانیم چې دکاني ډبرو د پاتې شونو په ډول نه وي او په طبیعي ډول د ایزوتوپونو پر مخلوط مشتمل وي.
دری:[پلوتونیوم]

## پلي ګراف

هغه دستګاه ده چې د وینې، تنفسي تغییرات او د پوستکي د الکتریکي مقاومت تغییرات او عکس العملونه چې د دروغو د منشا له وجې څخه څرګندیږي ثبتوي.
دری: [پلی گراف]

## پناه ځای (پتنځای)

هغه ټاکلې طبیعي او یا مصنوعي سیمه ده چې د ژویو د بېلابېلو ډولونو د بشپړې څارنې، ساتنې او پالنې د نسل زیاتوالي او د هغو د ژوندانه د چاپېریال د ساتنې په مقصد تثبیت شوی وي او د قانون له حکمونو سره سم ښکار او ګټه اخیستنه پکښې منع وي. دری:[ باشگاه ( پناهگاه)]

## پور

عبارت له هغه عقد څخه دی چې د هغه پر اساس د تړون یوه خوا یوه اندازه خپلې پیسې، نقود او یا مالونه مقابل لوري ته پدې شرط تملیکوي چې د غوښتنې په وخت او یا ټاکلې موده کې (چې په عقد کې ذکر شوي وي) هغه بېرته ردوي. دری: [قرض]

## پور اخیستونکی

هغه شخص دی چې د پور د عقد په موجب نقدې پیسې یا معلوم عین له خپل مقابل لوري څخه د ټاکلې مودې لپاره اخلي.

(د پور عقد ته دې مراجعه و شي). دری:[قرض گیرنده]

## پور ورکوونکی

هغه شخص دی چې د پور د عقد په موجب خپلې نقدې پیسې یا معلوم عین خپل مقابل لوري ته د ټاکلي مودې لپاره ورکوي. (د پور عقد ته دې مراجعه و شي).
دری:[قرض دهنده]

## پوله

له هغې فاصلې او معیینې کرښې څخه عبارت دی چې په طبیعي او یا مصنوعي توګه او یا د دوه هېوادونو ترمنځ د قرارداد له مخې معین او مشخص شوي وي.
دری:[سرحد]

## پولي ارزښت

هغه ارزښت دی چې په نقدو پیسو باندې د بیا پیرودنې وړ وي. دری:[ارزش پولی]

## پولي تورم

هغه اصطلاح چې په معموله توګه د پیسو د زیات چاپ، نشر او په چلند کې اچولو په معنی استعمالیږي.
دری: [تورم پولی]

## پولي خدمت

هغه خدمت دی چې د پیسو په اړه (د پیسو د خوندي کولو او ساتنې، د پیسو د لیږدونې د چک د نقدولو او د اسعارو د تبادلې په شمول) ترسره کیږي.
دری:[خدمات پولی]

## پولي واحد

د یو هېواد او یا یوځای د رایجو او قانوني پیسو د نښې (علامه) په نظر کې نیولو ته ویل کیږي.
دری:[واحد پولی]

## پولي ګامې

د زوجاتو تعددته وائې. دری: [پولی گامی]

## پولیس

له یو دولتی ارګان څخه عبارت دی چې دنده ئې عدلی او قضائې مراجعو ته د نظم استقرار، د جرایمو مخنیوی، د جرایمو کشف، د دلایلو راټولول، د متهمینو او مظنونینو نیول او د هغوی تسلیمول دي. دری: [پولیس]

## په اجوره وکیل

هغه وکیل دی چې له مؤکل څخه د اجورې د لاس ته راوړلو په بدل کې د هغه په نوم او حساب تاکلې چارې ترسره کوي. دری:[ وکیل بالاجرت]

## په اشارو سره اجاره

هغه اجاره ده چې په ښکاره او معروفو اشارو سره یې انعقاد موندلای وي. دری:[ اجاره به اشارات]

## په اشارو وصیت

هغه وصیت چې د داسې اشخاصو لخوا چې په الفاظو، عباراتو او لیکلو سره د وصیت توان نلري، په معروفو اشارو سرته رسیږي. دری: [وصیت به اشارات]

## په اشتباهي توګه بېرته ورکړه

هغه اشتباهي ګمرکي دین چې بېرته ورکړل شوی وي، ګمرکي مدیون مکلف دی له ابلاغ څخه وروسته د قانون له حکمونو سره سم هغه مسترد کړي.
دری:[ باز پرداخت اشتباهی]

## په امانت کې خیانت

کله که منقول مال د یو معین او خاص غرض لپاره شخص ته سپارل شوی وي او دا شخص په بد نیت د قانون او مقرراتو او عرف مخالف په هغې کې تصرف او استعمال وکړي، دغه حالت ته په امانت کې خیانت وائې.
دری: [خیانت در امانت]

## په بازار کی د پلورلو وړ ضمانت

هغه ضمانت دی چې د عادي شرایطو او په لازم سرعت کې د بازار د ارزښت په تناسب د معاملاتو په باب د مشابه مزایدې په ډول پلورل کیږي.
دری:[ ضمانت قابل فروش در بازار]

## په باطله نکاح کې وطي

د شخص هغه نکاح چې منعقد کړې ده باطله وشمېرل شي او پدې جریان کې جنسي رابطې صورت موندلی وي. دری: [وطی در نکاح باطل]

## په بدل کې د دین ادا کول

هغه عمل دی چې د هغه په اثر داین له مدیون څخه کوم بل شی د هغه څه په بدل کې چې مستحق دی ومني.
دری:[ ادای دین به عوض]

## په بنوت باندې اقرار

د ماشوم د نسب اثبات دی چې د شخص په اعتراف د پلارد وینې په حیث وي. دری: [اقرار به بنوت]

## په تجربه پورې مشروطه بیع
له هغې بیعې څخه عبارت ده چې انعقاد یې په شرط پورې تړلی وي او هغه د نظر وړ تجربې تر سرته رسولو وروسته د پېرودونکي لخوا د مبیعې له قبلولو څخه عبارت دی. ( د بیع ته دې مراجعه وشي).
دری:[ بیع مشروط به تجربه]

## په ترك سره قتل
له هغه قتل څخه عبارت دی چې په مادي یا معنوي فعل یعنې په ایجابي فعل باندې ئې صورت موندلی نه وي بلکه په سلبي فعل مینځ ته راغلی وي. دری: [قتل به ترک]

## په تقلب سره ورشکستګي
هغه ماتې ده چې پکښې ورشکست شوی تاجر په عمدي توګه خپلو داینینو ته د زیان رسولو په موخه خپل ځان ورشکست کړی وي. دری:[ورشکستگی با تقلب]

## په ټاکلې مودې پورې تړلی عاریت
د یوې ټاکلې مودې لپاره د مال په عاریت ایښودل دي. (عاریت ته دې مراجعه وشي).
دری:[ عاریت مقید بمدت معین]

## په جبري توګه خرڅول
د منقول یا غیر منقول مال خرڅول دي چې د محکمې د تجویز له مخې د قانون له حکمونو سره سم صورت نیسي. دری: [فروش اجباری]

## په جرم کې اتفاق
د څو کسانو له ګډون څخه عبارت دی په یو جرمي عمل کې او د هغوی توافق دی د یو جرم یا جرمونو د ارتکاب لپاره. دری:[اتفاق در جرم]

## په جرم کې سبب
څوك چې جرم په خپله نه بلکې په واسطې سره مرتکب کېږي د جرم سبب ګڼل کېږي. دری: [سبب در جرم]

## په جرم کې ګډون
د جرم له اصلي یا فرعي برخو څخه د یوې برخې ارتکاب دی چې د شخص له خوا ترسره شوی وي.
دری:[شرکت در جرم]

## په جرم کې مباشرت
څوك چې خپله پرته له کومې واسطې په مستقیمه توګه د جرم مرتکب شي د جرم مباشر بلل کیږي.
دری: [مباشرت در جرم]

## په جرم کې مرسته
هغه دی چې یو شخص د بل شخص سره د یو فعل پر ارتکاب کې مرسته وکړي. دری:[معاونت در جرم]

## په جزايي دعوی کې ادخال
د غیر داخلول دي په جزایې دعوي کې په زور او اکراه سره دده له اختیار پرته.
دری: [ادخال در دعوی جزایی]

## په جنایت کې تسبیب
هغه حالت چې شخص پخپله جنایت نه وي ترسره کړی. مګر د بل شخص په وړاندې د جنایت د ترسره کولو زمینه برابره وي. دری: [تسبیب در جنایت]

## په څکلو سره مشروطه بیع
له هغې ډول بیعې څخه عبارت ده چې د پېرودونکي لخوا د څکلو څخه وروسته د منلو په اعلام سره منعقدېږي.

(بیع ته دې مراجعه و شي).
دری:[بیع مشروط به دانستن ذائقه]

## په حق کې شبه

هغه شبه چې د غله لپاره په غلا شوي مال کې غیر متمیز حق وجود ولري. دری:[ شبهه در حق]

## په حقوقو کې د ورثې اختلاف

هغه حالت چې په متروکه میراث کې ورثه د بېلابېلو سهمونو لرونکي وي. دری: [اختلاف ورثه در حقوق]

## په حقوقو کې د ورثې تساوي

هغه حالت چې ټوله ورثه په داسې یو حالت کې قرار ولري چې د متروکې د میراث په حقوقو کې یو بل سره په یوه توګه مستحق وي. دری: [تساوی ورثه در حقوق]

## په خوب کې ګرځېدل

هغه حالت چې شخص د خوب په حالت کې د جرم مرتکب کیږي. دری: [جرم در خواب]

## په خوله اقرار

هغه اقرار دی چې د ویلو له لارې ترسره شي.
دری:[ اقرار شفاهی]

## په دار زړول

یو عمل دی چې د واکمنې محکمې د قطعي حکم او د جمهور رییس په منظورۍ د شخص په غاړه کې د دار رسۍ اچول کیږي چې د بدن د وزن د فشار له امله د تنفس مجرا بنده او د مرګ سبب وګرځي.
دری:[به دار آویختن]

## په دعوی کې تناقض

په دعوی کې تناقض عبارت له هغه ډول تناقض څخه دی چې قاضي د دعوی نه اورېدو ته اړ باسي.(تناقض ته دې مراجعه وشي). دری: [تناقض در دعوی]

## په دلیل کې شبهه

له هغې شبهې څخه عبارت ده چې د فعل د حلال والي او حرام والي له اشتباه څخه مینځ ته راځي.
دری: [شبهه در دلیل]

## په دوران کې پیسې

ټولې هغه سکې او کاغذي پیسې دي چې د دوران په حال کې وي. دری: [پول داخل دوران]

## په دین کې نیابت

داین ته د دین د ورکړې په اړوند د مدیون پرځای د بل شخص له تعهد څخه نیابت بلل کیږي.
دری:[نیابت در دین]

## په دیت کې تأجیل

هغه حالت دی چې د باصلاحیته محکمې له نهایي حکم څخه وروسته په ټاکلې اقساطو ادا کیږي.
دری: [تأجیل در دیت]

## په دین تعهد

د وجیبې اداء او ورکول، په دین تعهد دی.
دری:[ تعهد به دین]

## په راتلونکي پورې موکول عقد

هغه عقد دی چې انفاذ یې راتلونکي زمانې ته نسبت ورکړل شوی وي. دا ډول عقد په سملاسي توګه انعقاد مومي خوحکم یې تر یوه ټاکلي وخته پورې ځنډول کیږي. دری:[عقد موکول به آینده]

## په زخم یا جرحي رضامندي

د شخص اجازه ده په زخمي کېدو د خپل بدن.
دری: [رضایت به جرح]

## په سرقت کې مرستیال
هغه شخص دی چې له سارق سره د مسروقه مال په وېستلو کې د حرز څخه مرسته کوي که دا مرسته مادي وي او که معنوي. دری: [معاون در سرقت]

## په سره تړلیو (متصله) ځمکو کې دحدود ټاکل
د څنګ په څنګ ځمکې سره د خاوند د ملکیت د حدودو د ټاکلو په موخه د یوه عقار د څښتن اقدام دی.
دری: [تعیین حدود در اراضی اتصال یافته ]

## په شبهه باندې وطې
د نارینه او ښځې او یا ښځې او نارینه ترمنځ د شخص د حقیقي آمیزش واقع کېدل دي چې اصلاً په شرعي او قانوني توګه روا نه وي او د یوې اشتباه په اثر یې اتفاق موندلی وي. دری: [وطی به شبهه]

## په شبهې دخول
له یوې محرمې ښځې سره په ربښتینې توګه د یوه شخص یوځای کېدل دي د اشتباه له مخې د هغه د پېښېدو په ځای (محل د وقوع) کې چې د عدت د تېرولو لامل ګرځي. دری: [دخول به شبهه]

## په شرط باندې معلق وصیت
هغه وصیت دی چې د هغه تنفیذ د امر په سرته رسولو باندې تعلیق شوی وي.
دری: [وصیت معلق به شرط]

## په شرط باندې یوځای شوی وصیت
هغه وصیت دی چې د هغه ایجاب د یو شرط سره نښلول شوی وي. دری: [وصیت متصل به شرط]

## په شرط پورې معلق کفالت
د شرط یا شرطونو په پام کې لرلو سره د مکفول له په وړاندې د درېیم شخص د حاضرولو په اړوند د کفیل ژمنه ده. (کفالت ته دې مراجعه وشي).
دری: [کفالت معلق به شرط]

## په ضمانت سره له بنده خوشې کول
د متهم یا مظنون مؤقت خلاصون دی د ضمانت بالمال یا شخص په بدل کې عدلي او قضایي مراجعو ته په ټاکلې موده کې د حاضرولو لپاره. دری:[ رهایی به قید ضمانت]

## په عدم سمع دفع
عبارت له هغې مدافعې څخه ده چې د مدعي علیه له خوا د اثبات او د محکمې د منلو وروسته دعوی له اورېدو څخه پاتې کېږي. دری: [دفع عدم سمع]

## په عقد کې اهلیت
هغه ډول اهلیت دی چې د هغه په اساس شخص، له قانون سره سم عقد یا عقدونه تړي.
دری: [اهلیت در عقد]

## په عقد کې نیابت
د یو شخص یا اشخاصو له خوا د معاملې د یو یا دواړو خواوو د عقد انعقاد ته ویل کیږي. دری: [نیابت به عقد]

## په علم یمین
عبارت له هغه ډول یمین څخه دی چې قاضي هغه خصومو ته توجیه کوي ترڅو پر خپل علم لرلو او یا نه لرلو قسم یاد کړي. دری: [یمین به علم]

## په عین تعهد
هغه دی چې موضوع یې د عین د ملکیت یا له هغه څخه د ګټې اخیستنې او یا هم د هغې د تسلیم یا ساتنې په مقصد یو ټاکلی عین وي. دری:[ تعهد به عین]

**په غرامت تهديد**
له هغه ګوت څنډنې څخه عبارت دی چې د يو قرارداد شوي ژمنې د ناسمه او په وخت بانديې نه ترسره کولو چې د ضرر لامل شوی وي د محکمې له خوا متعهد لوري ته متوجه شي. دری: [تهديد به غرامت]

**په غلا شويو مالونو کې دخالت**
د غلا شويو مالونو اخيستل، پټول يا د غلا شويو مالونو معامله پدې شرط چې شخص د غلا شويو مالونو په غلا پوه وي او علم پرې ولري.
دری: [دخالت در اموال مسروقه]

**په غير مادي فعل سره قتل**
له هغه قتل څخه عبارت دی چې په مادي فعل باندې مينځ ته نه وي راغلی بلکه په غير مادي فعل (معنوي) سرته رسيدلې وي. دری: [قتل توأم به فعل غير مادی]

**په غير مجهول النسب اقرار**
هغه اقرار چې له اصل څخه متفرع ګرځيدلی وي.
دری: [اقرار به نسب غير مجهول النسب]

**په فراش کې قتل (وژنه)**
د خيانت کارې ښځې او هغه پردی زاني نارينه له وژلو څخه عبارت دی چې له هغې سره د ميړه له خوا د زنا په حالت کې تر سترګو شي. دری:[ قتل در فراش]

**په فساد مشهوره**
د اسلامي جزا په فقه کې، هغه ښځه چې د زنا او فساد په ترسره کولو کې شهرت ولري. دری: [ مشهور به فساد]

**په فعل کې خطاء**
هغه خطا چې فاعل په خپل فعل کې د خطا مرتکب شي او کوم هدف ئي چې درلود د هغې پرخلاف لاسته راشي. دری: [خطاء در فعل]

**په قبض پورې اړوند وکالت**
د مال يا دين د لاس ته راوړلو لپاره، وکالت دی. (وکالت ته دې مراجعه وشي). دری:[ وکالت به قبض]

**په قسطونو ربحه**
د پور هغه ربحه ده چې په مساوي توګه د يوې دورې په مرتبو فصلونو کې د تأديې وړ وي. دری: [ربح با قسط]

**په قصاص کې د صلحې صلاحيت**
هغه صلاحيت دی چې شخص يې په عمدي قتل کې د قصاص حق لري د صلح صلاحيت هم درلودی شي.
دری: [صلاحيت صلح در قصاص]

**په قصاص کې سوله**
هغه سوله ده چې د مقتول د ورثې او د قاتل ترمنځ صورت مومي. (صلحې ته دې مراجعه وشي).
دری: [صلح در قصاص]

**په قصد کې خطاء**
هغه خطا ده چې فاعل په خپل ذهن کې د خطا مرتکب کيږي سره له دې چې د هغه فعل په هدف باندې لګيږي.
دری: [خطا در قصد]

**په کار کې شريك کيدل**
هغه دی چه دوه شخصه يا له هغو نه ډير بل چاته د کار يا تعهد سرته رسيدل ومني. دری:[ شرکت در کار]

**په کتابت سره طلاق**
هغه طلاق دی چې د ميړه له خوا يې ښځې ته د ليکنې او کتابت له لارې صادريږي. (طلاق ته دې مراجعه وشي).
دری:[طلاق به کتابت]

### په کلام کې تناقض
په کلام کې تناقض عبارت له هغه ډول تناقض څخه دی چې د دعوی په اصل یا متن کې نه، بلکې دوه یمه افاده له لومړي کلام سره د شکل له مخې په تناقض کې وي او د قاضي په وړاندې واقع شي. دری: [تناقض در کلام]

### په ګټو باندې وصیت
هغه وصیت دی چې د هغه موضوع د اعیانو په ګټو کې تصرف وي. دری: [وصیت به دیدن]

### په لوړه بیه پلورل
له ټاکل شوې بیې یا د ورځې له بیې څخه په لوړه بیه د جنسونو او مالونو پلورل وي. دری: [گرانفروشی]

### په مال باندې کفالت
هغه عقد دی چې د هغه پراساس یو شخص د مدیون د دین د نه ادا کولو په وخت کې د داین لپاره تعهد کوي.
دری: [وصیت بر مال]

### په مالك کې شبه
هغه شبه چې د مسروقه مال په ملکیت کې د سارق لپاره موجوده وي. دری: [شبهه در مالک]

### په متروکه عین باندې وصیت
هغه وصیت دی چې د هغه موضوع په متروکه کې یو عیني ملك او یا مال وي. دری: [وصیت به عین متروکه]

### په محاکماتي پړاو کې تحقیق
شفوي خبرې دي چې د محاکمې په ترڅ کې د قضا په وړاندې صورت مومي.
دری: [تحقیق در مرحله محاکماتی]

### په موضوع کې وقوف
هغه اصطلاح ده چې په معموله توګه د شخص په مختلفو حقوقي مسایلو او موضوعاتو باندې د هغه د پوهې په حاصلولو لکه د مبیعې په عیب باندې په پوهېدلو او نورو کې کارول کېږي. دری: [وقوف بر موضوع]

### په نسب اقرار
له پلار څخه زوی او له زوی څخه پلار ته اقرار دی.
دری: [ اقرار به نسب]

### په نص کې اغلاق
د یو قانون د متن غامضول دي چې له یوه متن څخه تریوه ډېر مفهومونه افاده شي. دری: [اغلاق در نص]

### په نفس او مال باندې ولایت
د قاصرینو د مالي امورو هغه اداره چې د سرته رسولو توان ئې نلري. دری: [ولایت بر مال و نفس]

### په نفس کفالت
د هغه شخص د حاضرولو په اړوند چې کفالت یې شوی، د مکفول لهٔ په وړاندې د کفیل له ژمنې څخه عبارت دی. دری: [کفالت به نفس]

### په ورکړه کې ځنډ
د متعهد له خوا په ټاکلي وخت د تعهد په ترسره کولو کې له ځنډ څخه عبارت دی. دری:[ تاخیر در پرداخت]

### پېرودونکی
هغه شخص دی چې کوم شی وپیري. دری:[مشتری]

### پیسو ته ورته
هغه شتمني ده چې په سملاسي توګه په پیسو د بدلولو وړ وي. دری: [شبه پول]

## پیشکي

هر هغه څیز چې له اصلي موعد څخه مخکې ورکړل شي اویا اجرا شي. دری: [پیشکی]

## پینالوژي

هغه علم چې موضوع یې د زندان په چاپېریال کې د جزاګانو د ترسره کولو په اړه او همدا راز د زندانونو او زندانیانو د اداره کولو د څرنګوالي بحث او ارزونه ده.
دری: [پینالوژی]

## پیوند

د یو بل نبات او ونې سره د اصلاح شوی او شنه بوټې د ساقي او یا د یوې برخې یوځای کول چې د هغه د جنسیت د ښه کولو لپاره صورت نیسي. دری: [پیوند]